د فیلیپیانو په نوم د پولوس رسول خط

پیژندګلو

پولوس رسول دا خط د فیلیپیانو جماعت ته د شکریې په طور لیکلے وو د هغه تحفې دپاره کومه چې هغوئ پولوس رسول ته لیږلې وه، کله چې هغه په روم کښې په قید کښې وو. د هغوئ د تحفې د شکریې نه پس پولوس رسول هغوئ ته فرمائی چې د هغۀ په دې مشکلو حالاتو کښې هم هغۀ د زیری د پیغام رسولو خدمت وکړو. په دې کِتاب کښې پولوس رسول دا تعلیم ورکوی چې په ایماندارانو به سخت تکلیفونه راځی، خو هغوئ به بیا هم خوشحالی کوی، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحاله ژوندون بنیاد دعا ده. ایمانداران په خپلو کښې د ښۀ تعلق ساتلو په وجه خوشحالی کولے شی، کۀ څۀ هم چې د مختلفو قومونو او مقامونو مالِکان هم وی خو چې په شریکه د زیری خدمت کوی. پولوس رسول فرمائی چې عاجزی د حضرت عیسیٰ مسیح د منونکو دپاره ډېره ضروری ده. او د هغوئ عاجزی دې د حضرت عیسیٰ مسیح هغه عاجزیٔ تصویر څرګند کړی چې هغۀ آسمان پرېښودو او انسان جوړ شو، او هغۀ ډېر شرم برداشت کړو کله چې هغه لکه د یو غل په شان د رومیانو په سولیٔ باندې ووژلے شو.

پولوس رسول خپلو لوستونکو ته منت کوی چې په هر حالت کښې شُکر ګزاری کوئ او خپل حاجتونه په دُعا کښې خُدائ پاک ته پیش کوئ. په دې طریقه ژوند تېرولو سره په ژوند کښې حقیقی امن راځی. د حفظ کولو دپاره ۴: ۶ آیت ”د هیڅ خبرې غم مۀ کوئ بلکې په هره خبره کښې خپل درخواستونه د دُعا او زاریٔ په وسیلې د شُکر ګزاریٔ سره د خُدائ پاک په حضور کښې پیش کوئ.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا و سلام

۱ دا خط د پولوس او تیموتیوس د طرف نه څوک چې د عیسیٰ
مسیح خادِمان دی. زۀ دا د فیلیپی هغه ټولو مقدسینو ته لیکم چې
په عیسیٰ مسیح یې ایمان دے سره د هغوئ د مشرانو او خادِمانو.
۲ په تاسو دې زمونږ د خُدائ پلار او د مالِک عیسیٰ مسیح د
طرف نه فضل او سلامتی وی. ۳ ما ته چې هرکله تاسو رایاد شئ
نو زۀ د خپل خُدائ پاک شُکر وباسم. ۴ او په هره یوه دُعا کښې
چې زۀ یې ستاسو دپاره غواړم تل ډېر په خوشحالیِ تاسو ټولو دپاره
خواست کوم، ۵ ځکه چې تاسو د اولنیِ ورځې نه تر ننه پورې د
زیری په خورولو کښې ما سره شریک یئ. ۶ زۀ په دې مطمئن یم
چا چې په تاسو کښې نیک کار شروع کړے دے، هغه به یې د
عیسیٰ مسیح تر ورځې پورې پوره کړی. ۷ ځکه خو ما ته دا جائز
دی چې زۀ ستاسو ټولو په حقله هم دغه شان خیال وکړم دپاره د دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو زما په زړۀ کښې يئ، او زما د قيد او د زيرى د دفاع او په
تصديق کښې تاسو ټول ما سره د خُدائ پاک په فضل کښې شريک
يئ. ۸ خُدائ پاک زما ګواه دے چې زۀ څومره د عيسىٰ مسيح په
مينه کښې ستاسو ټولو د ليدلو خواهشمند يم. ۹ او زۀ دا دُعا کوم
چې ستاسو مينه دې د عِلم او پوره پوهې سره نوره هم زياته شى، ۱۰
چې تاسو داسې فېصله وکړے شئ څۀ چې ښۀ وى او چې تاسو د
مسيح د واپسى تر ورځې پاک او بې‌عيبه پاتې شئ. ۱۱ او تاسو دې
د صداقت مېوه ونيسئ کومه چې د عيسىٰ مسيح په وسيله ملاويږى
او د خُدائ پاک جلال او ستائينه دې ښکاره شى.

هر چا ته دې پته وى چې
حضرت عيسىٰ مسيح څوک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے

۱۲ اے ورونو، زۀ غواړم چې تاسو په دې خبر شئ څۀ چې په
ما تیر شول په حقیقت کښې هم هغه د زیرۍ د خورولو سبب شُو،
۱۳ تر دې چې د قیصر د قلعې ټولو محافظانو او نورو ټولو خلقو ته
دا پته ولګیده چې زۀ د مسیح دپاره قېدۍ یم. ۱۴ او په مالِک کښې
زمونږ زیات ورونه او خوښدې زما د قېدیدو په وجه زړَور شول او
بې‌ډیره د خُدائ پاک کلام په اورولو کښې زړۀ ورتیا ښکاره کوی.
۱۵ ځینې د مسیح پیغام په حسد او د مخالفت په وجه خو ځینې
یې په نیک نیتۍ سره بیانوی. ۱۶ دوئ د مینې په وجه د مسیح پیغام
ورکوی او په دې خبر دی چې زۀ د زیرۍ د دفاع دپاره دلته یم. ۱۷
خو ځینې د مسیح دعویٰ د خود غرضۍ په وجه کوی او د صفا زړۀ
نه یې نۀ کوی، بلکې په دې اراده یې کوی چې په جیل کښې زما
مصیبتونه نور هم زیات شی. ۱۸ خو دا څۀ خبره نۀ ده، خو خاص
خبره دا ده چې د مسیح پیغام ورکول دی هغه چې په هره طریقه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی، هغه کۀ په بهانه یا په صفا زړۀ، او هم په دې کولو زۀ
خوشحالېږم. آو، او همېشه به خوشحاله شم. ۱۹ نو زۀ په دې پوهېږم
چې ستاسو د دُعاګانو په وجه او د عیسیٰ مسیح د روح مدد به زما
د آزادۍ سبب شی. ۲۰ ځکه خو دغه زما د زړۀ خواهش او اُمید
دے چې زۀ په څۀ خبره کښې هم شرمنده نۀ شم، بلکې زۀ به د
مسیح دپاره خپله زړۀ ورتیا جاری وساتم، لکه څنګه چې مخکښې
وم. او زۀ په دې یقین ساتم چې زما ژوند به د مسیح دپاره د عزت
سبب وی، هغه کۀ زۀ مړ یم او یا کۀ ژوندے یم. ۲۱ مسیح زما
دپاره ژوندون دے او مړ ک زما دپاره ګټه ده. ۲۲ خو کۀ زۀ ژوندے
پاتې شم نو نور فائده مند به خدمت وکړے شم. نو زۀ نۀ شم وئیلے
چې زما دپاره څۀ غوره دی. ۲۳ زۀ په یو دوه کښې حېران یم. زما
زړۀ خو دا غواړی چې رُخصت شم او مسیح له لاړ شم ځکه چې دا
ډېره زیاته بهتره ده، ۲۴ خو زما ژوندی پاتې کېدل ستاسو دپاره ډېر
ضروری دی. ۲۵ او زما په دې یقین دے او زۀ پوهېږم چې ژوندے
به پاتې شم، او زۀ به تاسو ټولو سره یم چې تاسو په ایمان کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترقی او خوشحالی وکړئ، ۲۶ کله چې زۀ تاسو له بیا راشم، نو په
عیسیٰ مسیح کښې به تاسو سره لا زیات د فخر کولو دلیلونه وی
کوم چې هغه زما په وسیله کوی. ۲۷ صرف داسې اخلاق کوئ چې
ستاسو ژوند دې د مسیح د زیری په مطابق وی، نو بیا کۀ زۀ راشم
او یا رانۀ شم، خو چې ستاسو په حقله دا واورم چې تاسو په یو روح
کښې قائم یئ، او د اِنجیل د ایمان دپاره په یو زړۀ ښۀ خواری کوئ.
۲۸ او په هیڅ خبره کښې هم د خپلو مخالفینو نه مۀ یرېږئ، ځکه
چې دا د هغوئ دپاره د تباهیِ نښه ده، خو ستاسو دپاره دا د خُدائ
پاک د طرف نه خلاصون دے. ۲۹ ځکه چې تاسو ته دا امتیاز نۀ
صرف په مسیح د ایمان په وجه درکړے شو، بلکې دا چې د هغۀ د
خاطره تکلیفونه هم وزغمئ. ۳۰ او تاسو هم هغه خواری کوئ په
کومو چې مو زۀ لیدلے وم او اوس هم اورئ چې زۀ هغه شان لګیا
یم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حضرت عیسیٰ مسیح

عاجزی په ځان کښې راوستل

۱ نو کۀ په تاسو کښې د مسیح څۀ ډاډګیرنه وی، یا د هغۀ د
مینې څۀ تسلی وی، یا په تاسو کښې د روحُ القُدس شراکت وی،
او یا څۀ رحم او همدردی وی، ۲ نو تاسو زما خوشحالی پوره کړئ
چې په یو فکر، یوه مینه شئ، چې په یو زړۀ او یو مقصد شئ. ۳
د خود غرضیٰ او بې‌ځایه فخر په وجه څۀ مۀ کوئ، بلکې په
عاجزیٰ سره یو بل د ځان نه غوره ګڼئ. ۴ تاسو صرف د خپل
ځان سوچ مۀ کوئ، بلکې د نورو هم خیال ساتئ. ۵ ستاسو خوی
خصلت دې د یو بل سره هغه شان وی لکه څنګه چې د عیسیٰ
مسیح وو. ۶ هغه اګر کۀ د خُدائ پاک په صورت وو خو د
خُدائ پاک سره د برابرېدلو کوشش یې ونۀ کړو. ۷ بلکې خپل
ځان یې خالی کړو او د غلام شکل یې اختیار کړو، او د انسان په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صورت پیدا شو. کله چې په انسانی جسم کښې ښکاره شو، ۸ هغۀ خپل ځان عاجز کړو او دومره تابعدار شو چې مړک، بلکې د سولې مړک یې قبول کړو. ۹ هم په دې وجه خُدائ پاک هغۀ له د ټولو نه اوچت مقام ورکړو او هغۀ له یې هغه نوم ورکړو چې د ټولو نومونو نه اعلیٰ دے. ۱۰ نو چې د عیسیٰ په نوم ټول مخلوق په سجده شی، کۀ هغه په آسمان کښې وی، یا په زمکه، یا کۀ د زمکې د لاندې وی، ۱۱ او د خُدائ پلار د جلال دپاره دې هر ژوک دا اقرار وکړی چې عیسیٰ مسیح مالِک دے.

په دُنیا کښې د نُور په شان وځلیږئ

۱۲ په دې وجه زما ګرانو دوستانو، لکه څنګه چې تاسو همېشه زما تابعداری کړې ده نۀ یواځې زما په موجودګی کښې بلکې د هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه ډېر زيات مو زما په غېر موجودګی کښې هم کړې ده، هم دغه شان په يره او په رېبدو د خپل خلاصون کار کوئ چې هغه په ښۀ شان سر ته ورسوئ. ۱۳ ځکه چې دا خُدائ پاک دے چې په تاسو کښې نيت او عمل دواړه د خپلې نېکې ارادې پوره کولو دپاره پيدا کوی. ۱۴ هر کار بې د غورېدو او بحث نه بغېر پوره کوئ، ۱۵ نو چې تاسو بې‌داغه او پاک شئ. او په بدو او بې‌لارې خلقو کښې د خُدائ پاک د معصوم بچو په شان اوسېرئ او په هغوئ کښې تاسو د آسمان د ستورو په شان وځلېرئ. ۱۶ تاسو د ژوندون په کلام کلک ودرېرئ نو د مسيح د بيا راتلو په ورځ به زۀ فخر کوم چې نۀ خو زما منډه بې‌فائدې شوه او نۀ زما خواری بې‌ځايه لاړه. ۱۷ خو کۀ ستاسو په قربانۍ او ستاسو د ايمان د نذرانې دپاسه زما وينه لکه د ميو په شان واچولے شی نو زۀ به خوشحاله يم او ستاسو ټولو په خوشحالۍ کښې به شريک شم. ۱۸ نو تاسو هم دغه شان خوشحاله اوسئ او ما سره په شريکه خوشحالی کوئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیموتیوس او اِپفرودیتوس

۱۹ د مالِک عیسیٰ مسیح نه زۀ اُمید کوم چې ډېر زر به زۀ تاسو
ته تیموتیوس درولېږم چې زۀ ستاسو د حالت نه خبر شم نو خوشحاله
به شم. ۲۰ ځکه چې دلته د هغۀ په شان بل څوک نشته چې په
صفا زړۀ ستاسو دپاره فکرمند وی. ۲۱ ځکه چې نور ټول د خپلو
ګټو په تلاش کښې دی، نه چې د عیسیٰ مسیح. ۲۲ خو تاسو ته د
تیموتیوس د اهمیت پته ده چې هغۀ ما سره لکه د یو زوئ چې د
پلار سره خِدمت کوی نو دغه شان هغۀ ما سره د زیری په خورولو
کښې خِدمت وکړو. ۲۳ نو زۀ اُمید کوم څنګه چې ما ته د خپل
حال پته ولګی نو زۀ به زر تر زره هغه درولېږم. ۲۴ او زما په مالِک
پوخ یقین دے چې زۀ به په خپله هم زر درشم. ۲۵ خو زۀ دا
ضروری ګڼم چې خپل ورور او د خِدمت ملګرے او د یو مورچې
فوجی اِپفرودیتوس تاسو له درولېږم څوک چې ستاسو پیغام وړونکے
هم دے او څوک چې تاسو راولېږلو چې زما ضرورتونه پوره کړی. ۲۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ستاسو د ټولو د لیدلو خواهشمند دے او پریشانه دے ځکه چې تاسو د هغۀ د بیماریٰ په حقله اوربدلی وُو. ۲۷ خو په حقیقت کښې هغه ډېر بیمار وو او مرګ ته نزدې وو، خو خُدائ پاک په هغۀ رحم وکړو، او صرف په هغۀ نه، بلکې په ما یې هم وکړو چې په ما د غم دپاسه غم نۀ وی. ۲۸ ځکه خو ما سره هم د هغۀ د درلېږلو خیال نور زیات شو چې تاسو هم هغه ووینئ او خوشحاله شئ او زما پریشانی به هم کمه شی. ۲۹ نو په مالِک کښې په ډیرې خوشحالیٰ سره د هغۀ هرکلے وکړئ، او هغۀ له دومره عزت ورکړئ چې داسې خلقو له ورکول په کار وی، ۳۰ ځکه چې هغه د مسیح د کار دپاره تقریباً مرګ ته نزدې شوے وو، او هغۀ خپل ژوند په خطره کښې د هغه خِدمت سر ته رسولو دپاره واچولو کوم چې تاسو ما دپاره ونۀ کړے شو.

د رښتیا او د دروغو صداقت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ نو زما ورونو او خوښدو، زما آخری نصیحت دا دے چې په
مالِک کښې خوشحاله اوسئ. او دا زما دپاره تکلیف نۀ دے چې
تاسو ته هغه خبرې بیا ولیکم، خو په دې کښې ستاسو فائده ده.
۲ د هغه سپو نه ځان وساتئ، څوک چې بدکاره دی، او تاسو په
سنټېدو مجبوروی. ۳ ځکه چې مونږ هغه رښتینی سنت شوی خلق
یُو څوک چې د خُدائ پاک په روح کښې عبادت کوُو او په عیسیٰ
مسیح فخر کوُو او په بدن مو بهروسه نشته. ۴ اګر چې ما سره هم
په خپل ځان د تکیه کولو وجه شته. خو کۀ نور څوک په خپل ځان
تکیه کوی نو زۀ د هغوئ نه پرې زیاته کولے شم. ۵ زۀ په اتمه ورځ
سنت شوم، د بنی اِسرائیل د قوم او د بنیامین د قبیلې نه یم، د
عبرانیانو نه عبرانی، او د شریعت په مطابق فریسی یم، ۶ د جوش
په نسبت د جماعت زورونکے، او د شریعت د صداقت د لاندې
بې‌عیبه یم. ۷ خو څۀ چې مخکښې زما دپاره ګټور وو هم هغه زۀ
اوس د مسیح دپاره نقصان ګڼم. ۸ زۀ د دې عظیمې خبرې په وجه
هر څۀ نقصان ګڼم په نسبت د دې چې زۀ خپل مالِک عیسیٰ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسیح وپیژنم. او د هغۀ د خاطره مې هر څۀ د لاسه ووتل خو ما دا
ټول څیزونه ګڼل وګڼلو، د دې دپاره چې مسیح خپل کړم، ۹ او د
هغۀ سره یو شم، نۀ په هغه صداقت کوم چې ما د شریعت نه
حاصل کړے دے، بلکې په هغه صداقت کوم چې په مسیح د
ایمان په وسیله دے. او د خُدائ پاک د خوا نه هغه صداقت چې
په ایمان ولاړ دے. ۱۰ زۀ غواړم چې د مسیح او د هغۀ د بیا ژوندی
کېدلو قدرت وپیژنم او د هغۀ سره په تکلیفونو کښې شریک شم او د
هغۀ په مړګ کښې د هغۀ په شان شم، ۱۱ د دې دپاره چې په څۀ
طریقه د مړو نه د بیا ژوندی کېدو درجې ته ورسېږم.

خپل مقصد ته رسېدل

۱۲ زۀ دا نۀ وایم چې ما دا هر څۀ حاصل کړی دی او یا زۀ
کمال ته ورسېدم، بلکې زۀ منډه د دې دپاره وهم چې هغه هر څۀ
حاصل کړم ځکه چې عیسیٰ مسیح زۀ خپل کړے یم. ۱۳ زما وروڼو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خوښدو، زما دا خیال نۀ دے چې کمال ته رسېدلے یم خو زۀ
اوس دا یو کار کول غواړم، چې هغه پخوانی ځیزونه هېر کړم او د
راتلونکو ځیزونو دپاره سخت محنت وکړم، (۱۴) زۀ د مقصد په طرف
په منډه یم چې هغه انعام حاصل کړم د کوم دپاره چې زۀ خُدائ
پاک د عیسیٰ مسیح په وسیله آسمانی ژوند ته بللے یم. (۱۵) مونږ
ټول چې په روحانی توګه بالغان یُو په کار دی چې په هر خبره کښې
یو شان خیال ولرو، او کۀ په څۀ خبره کښې ستاسو اختلاف وی نو
دا خبره به هم خُدائ پاک تاسو ته ښکاره کړی. (۱۶) نو بیا دې مونږ
په هغې خبرې کلک ودرېږو کومه چې مونږ حاصله کړې ده. (۱۷) زما
ورونو او خوښدو، خپل ځان زما په شان کړئ، او د هغه خلقو نه زده
کړئ څوک چې زمونږ په شان ژوند تېروی. (۱۸) ما تاسو ته په څو څو
ځله د هغوئ په حقله وینا کړې ده، او اوس په اوښکو سره وایم چې
ډېر خلق د مسیح د سولې د دشمنانو په شان ژوند تېروی. (۱۹) د
هغوئ اَنجام هلاکت دے، د هغوئ خُدائ د هغوئ ګډه ده، او
هغوئ په خپلو شرمناک کارونو فخر کوی او د هغوئ سوچ په دُنیاوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څیزونو دے. ۲۰ خو مونږ د آسمان اوسېدونکی یُو او مونږ د آسمان
نه د خلاصوونکی مالِک عیسیٰ مسیح د راتلو په اِنتظار کښې یُو.
۲۱ هغه به زمونږ دا کمزورے بدن د خپل جلالی بدن هم شکل جوړ
کړی د هم هغه قدرت په وسیله چې هغۀ پرې ټول څیزونه د خپل
ځان تابع کړی دی.

عملی ډاډګیرنه

۱ نو ځکه زما خوږو وروڼو او خوښدو، تاسو سره چې زۀ مینه
کوم او د لیدو مو خواهشمند یم، هم تاسو زما خوشحالی او تاج
یئ، زما عزیزانو په دې طریقه په مالِک کښې قائم پاتې شئ. ۲ زۀ
یوودیه او سنتخې ته مِنت کوم چې د مالِک په یووالی کښې په یو
زړۀ پاتې شی. ۳ او په خِدمت کښې زما وفادار ملګریه، زۀ تا ته هم
خواست کوم چې تۀ د دغو ښځو مدد هم وکړه ځکه چې هغوئ ما
سره په زبړی خورولو کښې لکه د کلیمینتوس او زما د خِدمت نورو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ملګرو سره خواری وکړه د چا نومونه چې د ژوندون په کِتاب کښې
لیکلی دی. ۴ همېشه په مالِک کښې خوشحالی کوئ، او بیا هم
وایم چې خوشحالی کوئ. ۵ پربِږده چې ټولو خلقو ته ستا نرم
مزاجی ښکاره شی، ځکه چې مالِک اوس زر راتلونکے دے. ۶ د
هیڅ خبرې غم مۀ کوئ بلکې په هره خبره کښې خپل درخواستونه د
دُعا او زارۍ په وسیلې د شُکر ګزارۍ سره د خُدائ پاک په حضور
کښې پیش کوئ، ۷ نو بیا د خُدائ پاک سلامتی چې د پوهې نه
ښځی بهر ده، هغه به ستاسو زړونه او خیالونه د عیسیٰ مسیح په
وسیله محفوظ کړی. ۸ نو آخر دا چې، اے ګرانو وروڼو او
خوښدو، څۀ چې رښتیا او د شرافت وی، څۀ چې حق او پاک وی،
او څۀ چې زړۀ پورې وی، غرض دا څۀ چې اعلیٰ او د تعریف وی،
په دې ټولو خبرو غور کوئ. ۹ او کومې خبرې چې تاسو ما نه زده
کړې دی او حاصلې کړې دی او زما نه مو اوربدلې او لیدلې دی په
هغې عمل کوئ، نو بیا به د سلامتی خُدائ پاک ستاسو مل وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فیلیپیانو شکریه ادا کول

۱۰ زۀ په مالِک کښې ډېر خوشحاله یم چې آخر هم تاسو زما
دپاره فکرمند شوئ، بې‌شکه چې اول هم تاسو فکرمند وئ خو موقع
درته نۀ وه مِلاو شوی. ۱۱ زۀ دا په دې وجه نۀ وایم چې زۀ محتاج
یم، بلکې ما دا زده کړل چې څۀ چې ما سره دی په هغې راضی
یم. ۱۲ زۀ هم په غریبۍ پوهېږم او هم په مالداری. په هر حال کښې
کۀ زۀ مور یم یا کۀ اوږے، کۀ زۀ مالدار یم یا کۀ ضرورتمند ما د
سکون ژوند تېرولو راز زده کړے دے. ۱۳ زۀ د مسیح په وسیله هر
څۀ کولے شم څوک چې ما له طاقت راکوی. ۱۴ خو دا هم ستاسو
مهربانی ده چې زما په مصیبت کښې شریک شوئ. ۱۵ اے
فیلیپیانو، تاسو په خپله خبر یئ چې د زیری په وړومبو ورځو کښې
کله چې زۀ د مِکدونیه نه روان شوم نو ستاسو نه سېوا یو جماعت
هم د ورکړې راکړې په معامله کښې زما مدد ونۀ کړو. ۱۶ ځکه کله
چې زۀ په تِسالونیکیه کښې وم نو تاسو ما ته د یو ځل نه زیات زما د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاجتونو د پوره کولو دپاره مدد رالېږلے وو. ۱۷ زۀ دا خبره د انعام غوښتلو دپاره نۀ کوم بلکې د دې دپاره يې کوم چې ستاسو حساب کِتاب ته فائده ورسی. ۱۸ ما سره هر څۀ شته او د ضرورت نه راسره زيات دی، او چې ستاسو رالېږلې ډالۍ مې د اِپفروديتوس نه واخستلې نو مطمئن شوم. دا هغه د خوشبويۍ نذرانه او قبوله قربانی ده چې د خُدائ پاک خوښه ده. ۱۹ او زما خُدائ پاک به ستاسو هر حاجت د خپل جلالی دولت په مطابق د عيسیٰ مسيح په وسيله پوره کړی. ۲۰ زمونږ د خُدائ پاک او پلار جلال دې تل تر تله وی. آمين.

د پولوس رسول آخری سلامونه

۲۱ ټولو مقدسينو ته په عيسیٰ مسيح کښې سلام وايم، او کوم ورونه چې ما سره دی هغوئ تاسو ته هم سلام وائی. ۲۲ ټول مقدسين خصوصاً د قيصر د خاندان خلق تاسو ته سلام وائی. ۲۳ زمونږ د مالِک عيسیٰ مسيح فضل دې تاسو ټولو سره مل وی. آمين.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹